مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۱/۰۵/۰۸

بېرحمي او الهي عذابونه

د الهي عذابونو قصص (کیسي) ولولئ، څښتن تعالی هغه مهال پر یو قوم عذاب نازل کړی دی، چې یوه ګناه په کې عمومي شوې ده، یا په بله ژبه یوه جرم په کې سرایت کړی او ګڼ کسان پرې ککړ شوي دي.

زموږ څلوېښت کلنه جګړه، د څښتن همدغسې عذاب دی. او هغه ګناه چې په موږ کې عمومیت لري او لکه ساري ناروغي ګڼو خلکو ته تللې، زموږ بېرحمي ده، له دین څخه ناسم تفسیر او تعبیر دی. موږ د رحمت او عاطفي دین د خشونت او وژنو په دین بدل کړی دی. هغه دین، چې د جاهلو عربو په لاس یې د کوشنیو نجونو ژوندي خښول منع کړل، هم هغه دین مو د بېشمېره ماشومانو د قتل په مرجع بدل کړ. دغه ناسم تفسیر یوازې په افغانانو پورې تړلی، ځکه خو عذاب یوازې پر همدوی رانازل دی.

جنګ ځکه پای ته نه رسیږي، چې موږ جنګ په دین بدل کړی دی. پنځوس کاله کیږي، استخباراتي مدرسو پرموږ دغه باور راتپلی، چې: جنګ یعنی دین او دین یعنی جنګ.

تر دې لویه ګناه نشته، چې د خدای د رحمت او عطوفت انسانمحوره دین مو یوازې او یوازې د خلکو تر وژنې راکوشنی کړی دی. د سبا ورځې ماشومان به له دین څخه یوازې د وژلو مانا اخلي. نه به د بغداد له دارالحکمة خبر وي، نه د بلخ له عرفاني - علمي عظمته، نه د بخارا له کتابتونونو، نه د فارابی و بوریحان و ابن سینا له نبوغه.
نیمه پېړۍ د دین ناسم تفسیر او یوازې قتال ته راکوشني کول، لویه ګناه ده .
داسې ګناه چې عذاب یې په کې دننه نغښتی دی. په خپله ګناه عذاب هم دی، یعني موږ چې څومره په بېرحمۍ خپل خلک وژنو، هماغومره عذاب لا پسې پراخیږي.

له دې عذابه د ژغورنې لاره دا ده، چې دین بېرته عاطفي، انسانیت، زړه سوي، اخلاقو او روحي تعلی (لوړاوي) ته ورستون کړو، خپل اصل ته.

هرکسی کو دور ماند از اصل خویش
باز جوید روزگار وصل خویش

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ